د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**ښاغلی ریک کورسینو د نړیوال خوراک سازمان مشر په افغانستان کی او داکتر نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل- د اپریل څوارلسمه نیټه کال ۲۰۰۸*

**د یوناما خبری کنفرانس**

**یوناما:** ښاغلو او اغلو سهار مو په خیر. خوښ یم چی بیا هم د دی اونی د کنفرانس کوربه توب په غاړه لرم. زما نوم نظیف الله سالارزی دی، د یوناما د ویاند د دفتر څخه یم. زموږ سره میلمه دی ښاغلی ریک کورسینو در نړیوال خوراکی سازمان مشر په افغانستان کی چی تاسو ته به د بشری وضیعت په اړه په افغانستان کی معلومات درکړی. مخکی له دی چی کنفرانس پیل کړو، څو لنډ ریپوټونو به درته وړاندی کړو.

## ځانګړی استازی په اروپا کی

د ملګرو ملتونو د سرمنشی ځانګړی استازی ښاغلی کای آیده دا اونی په اروپا کی دی چی د افغانستان د مرستة کوونکو هیوادونو سره وګوری ترڅو د نړیوالی ټولنی ملاتړ د افغانستان لپاره همغږی کړی. نن هغه په لندن کی دی او سبا به پاریس ته ولاړ شی، د چارشنبی به ورځ بروکسل ته او د پنجشنبی په ورځ به برلین کی لیدنی کتنی ترسره کړی.

## د ښووني او روزني لپاره د عمل نړیواله اونی

را روانه اونی "د ښووني او روزني لپاره د عمل نړیواله اونی" ده. دا یو نړیوال کمپاین دی چي د یونسکو له خوا يي ملاتړ کيږي څو د ټولو لپاره د ښووني او روزني بنسټيز حق جوت کړي.
د دي کال لپاره موضوع "کيفيت لرونکي ښوونه او روزنه د بی برخی کوولو د پای ته رسولو لپاره" ده. نړدي ۷۲ ميليونه کوچنيان له ښووني او روزني څخه بي برخي پاتي شوي او د نړی په کچه نږدي ۷۰۰ ميلونه ځوانان نا لوستي دي. چي ځيني يي د معيوبيت يا جنسيت له امله او ځيني نور يي په هيواد کي د جنګ جګړو له امله نا لوستي پاتي شوي او لا اوس هم د بي وزلی او پر ماشومانو باندې د کار له امله دغه کچه مخ په زياتيدو ده.لامل چي څه وي، په ميليونونو وګړي له خپل بنسټيز حق څخه محروم دي.
راتلونکي اونی موږ ته دا چانس راکوي چي د افغاني ميندو او پلارونو تر څنګ ودريږو او د هلو ځلو لپاره خپل غږ اوچت کړو، چي د ټولو افغان ماشومانو لپاره ښووني ته لاس رسي تضمين کړاي شي.
موږ هيله لرو چي په راتلونکي اونی کي ستاسو لپاره له يوه ښوونځي څخه کتنه تنظيم کړو چي دغه کمپاين ترسره او په دي نږدي کي د رسنيو لپاره يوه مشورتي پانه خپره کړو.

## د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنی اداره د ارزګان او بغلان ولایتونو له هغو کورنیو سره مرسته کوي، چي د خوراکي توکو د لوړو نرخونو له ننګونو سره لاس او ګريوان دي

په زرګونو کورنی به د ارزګان او بغلان ولايتونو د چورا او ترينکوټ په ولسواليو کي د ملګرو ملتونو د کرني او خوراکي توکو د اداري له هغو دوو پروژو څخه ګټه واخلي، چي موخه يي د خوراکي توکو د توليد زياتول، په راتلونکي کي د خوراکي توکو د بحران په وړاندي د زيانمنتوب راکمول او د کورنيو لپاره د عايد د زياتولو وده ده.

## نړیوال خوراکي پروګرام (WFP) په زابل کي خوراکي توکي ویشي

تیره اونی د ملګرو ملتونو خوراکي پروګرام (WFP) د زابل ولایت د شاجوی په ولسوالی کي داخلي بې ځایه شویو خلکو ته د خوراکي توکو د مرستي ویش پیل کړ. ډبلیو ایف پی د خپل بیرنی پروګرام له لاري ۳۶ ټنه وړیا خوراکي مرسته پر ۱،۸۰۰ تنو باندي ویشلي ده.

دغه وګړي له پاکستان څخه د زابل ولایت د شملزیو ولسوالی ته راستانه شوي، چي د یوه بل قوم له خوا په زور سره د شاجوی ولسوالی ته لیږدول شوي دي. نوموړي ولسوالی د زابل او پکتیکا ولایتونو تر منځ په پوله پرته ده.

## د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری (UNHCR) په فاریاب کي خوراکي توکي ویشي

د فاریاب ولایت په یو شمیر ولسوالیو کي د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری د ۲۰۰۷ کال له ډسمبر څخه پیل بیا تر اوسه پوري په ټولیز ډول ۲۲۶ کورنیو ته غیر خوراکي توکي (کمپلي، پلاستکي ترپالونه، جاکټونه، صابون او د یونیسف د کورنی جعبي) او هم خوراکي توکي (لکه د غنمو اوړه چي د WFP له خوا برابر شوي) ور کړي دي.

د دغو ۲۲۶ کورنیو تر منځ په کندهار کي د ژیړی دشتي او په هرات کي د مسلخ له پنډغالو، وچکالی ځپلي کورنی، چي د اوس لپاره په دولت آباد کي میشتي شوي او همدارنګه د باغیس ولایت له غورماچ څخه جنګ ځپلی وګړي شتون لري.

## ریک کورسینو د نړیوال خوراکی پروګرام مشر په افغانستان کی

سهار مو نیکمرغه! زه فکر کوم ورستی ځل دوه میاشتي پخوا دلته راغلی وم چي تاسی ته د نوي غوښتني په هکله معلومات درکړم کوم چي د افغانستان د حکومت او د ملګرو ملتونو له خوا د جنوری په دوهمه نیمایی که پیل شوي وه. ستاسی به په یاد وي چي د دغي غوښتني موضوع د افغانستان او د ملګرو ملتونو له خوا د هغو زیات شیمر افغانانو ارزونه وه چي اصلي خوړو لوړو بیو سخت اغیزمن کړی وه په خاص ډول د داسی خوړو بیه لکه د غنمو اوړه او دا چي زموږ ارزونی وښوده چي د دغی غوښتني تر وخته په تیرو ۱۲ میاشتو کي بیی په ټول هیواد کي ۶۰ فیصده لوړی شوی وی.

تاسی ټول د رسنیو څخه یاست او په دی پوهیږئ چي د نړۍ په نورو برخو کي څه پیښیږي. نو تاسی پوهیږئ چي دا خبره یوازی د افغانستان په اړوند نه ده. ډیر ډیر هیوادونه په همدی اندازه او حتی تر دي هم زیات ځوریږي. له تر دی هم د هغو بې ساری زیاتی شویو بیو له کبله ځوریږی چي د غلو او په عمده توګه غنمو، جوارو او د وریجو په بیو کي راغلی.

تاسی به په دی ورستیو اوونیو کي د ملګرو ملتونو د عمومی منشی له خوا د یو نوي عبارت "د لوږی نوي څیره" منځته راوړل لیدلی وي او هغه څه چي د ده منظور وو هغه د خلکو اغیزمنتوب دی، او په دی کي د ده مقصد دا دی، چي خلک تر دومره اندازی د وچکالی، سیلابو او نورو طبیعي ناورینونو او یا حتی د انسان په لاس جوړ شویو ناورینونو له کبله لکه شخړي هغومره نه دی اغیزمن شوي، بلکي په ساده توګه د قیمتونو زیاتوالی له کبله چي د غلي په نړیوالو قیمتونو کي رامنځ ته شوي دی، چي دا د دغو ټولنو په خورا بیوزلو

خلکو باندې اضافه فشار راوړي او د دغه بدلون پایلې به په ډیرو هیوادونو کې په څرګنده معلومې شوې دي. تاسو به هغه ګډوډۍ لیدلی وي چې دخوړو له امله په مرکزي امریکا، لویدیځه افریقا، مصر او ډیرو نورو هیوادونو کې منځ ته راغلې دي. زه فکر کوم افغانستان لومړی هیواد و او یا د لومړیو هیوادونو څخه دی چې د دغې ستونزې اهمیت ته متوجه شي او په کار لاس پورې کوي. د دغو فعالیتونو هغه غوښتنه پایله شوه چې د جنوري په دویمه برخه کې پیل شوه.

د دغو شیانو د خلاصه کولو او لنډیز لپاره چې په تیرو میاشتو کې پیل شوي دي هغه دا ده چې دغه غوښتنه د کابو ۸۰ میلیونه ډالرو کچه وه. د خوړو له نظره د دغې غوښتنې د نړیوال خوراکي پروګرام برخه ۸۸۰۰۰ ټنه خواړه شامل وه او دغه خواړه د ۲,۵ میلیونو خلکو لپاره په نظر کې وه، دا غوښتنه هم د افغانستان په ښاري سیمو کې او هم په کلیوالو سیمو کی د خلکو د مرستی لپاره شوی وه. زه په رښتیا نن خوشاله چې تاسو ته خبر در کړم چې دغه غوښتنه اساسا په بشپړه توګه تامین شوې ده. د هغو ۷۸ میلیونو له جملې څخه چې د خوړو لپاره ورته اړتیا ده، موږ ته د یو شمیر مرستندویان څخه ونډې رارسیدلې دي، په حقیقت کې دا ۱۰ مرستندویان دي چې نږدې ۷۰ میلیونه ډالره کیږي او انډول دا دی چې موږ په دې توانیدلې یو چې د نړیوال خوراکي پروګرام څخه په داخل کې پور واخلو، چې موږ به وکولای شو هغه بیرته د هغو څو نورو مرستندویانو له مرستو څخه په دا یو څو راتلونکو اونیو کې ورکړو.

لکه چې نن ورځ نږدې ۳۰۰۰۰ ټنه خوراکي توکي افغانستان ته را د ننه شوي دي او هغه موږ په ختیځ کې، د کابل په خوا وشا او په همدې ورځو کې د جنوب سیمه، په کندهار کې ویشو، چې دا کار ۵ اونۍ وړاندې پیل شوی دی. تراوسه پورې موږ نږدې ۴۰۰،۰۰۰ وګړو ته په کابل کې یوازې دغه خوراکي توکي ویشلي دي، زه فکر کوم چې تر نن ورځې پورې موږ ۱۵ ناحیو ته دغه توکي رسولي دي. موږ په ښارونو او ښارونو ته نږدې پرتو سیمو کې ۲۲۰،۰۰۰ وګړو ته رسیدنه درلودله، او موږ د دې هیله لرو چې د راتلونکې اونۍ د یکشنبې تر ورځې پورې د ویش دغه لومړنۍ لړۍ پای ته ورسوو.

تاسو ته د تیرې مطبوعاتي مرکې څخه یادونه کوم چې موږ هڅه کوو تر ټولو زیات زیان منونکي کسان، هغه کسان چې ډیره زیاته اړتیا لري، او د هغو ارزونو له مخې چې د حکومت او زموږ له خوا ترسره شوي دي، دا زیاتره هغه کورنۍ دي چې د ښځو له خوا او یا هم د معیوبو نارینو له خوا یې مشري کیږي. ډیره غټه کورنۍ د یو تن معاش لرونکې له خوا یې تر لږه حده اړتیاوې پوره کوي، د دې پروګرام تر هدف لاندې راشي، هغه وګړي چې په دې ورځو کې د یو ځای څخه بل ځای ته لیږدول شوي، بیځایه شوی او بیرته د ښاري سیمو په خواوشا کې ځای پر ځای شوی، د دې پروګرام لپاره د اهمیت وړ دي.

دغه پروګرام باید په ډیره لږه موده کې پلی شوي واي، زموږ زیاتره توجه د خوراکي توکو د اړتیاوو پوره کولو ته وه چې د سږ کال د حاصلاتو د راټولو تر مهاله ترسره شي، دا په دې مانا چې د ویش پروګرام باید د جون او د جولای تر نیمایي پورې پوره شي. په دې سربیره ۳۰۰۰۰ ټنه خوراکي توکي لا د وړاندې دلته دي، نور خوراکي مواد چې باید را ونیول شي او په دې باید د مرسته کوونکو ونډه وي چې دا کار موږ پر وړاندې بیایي. همدا اوس موږ د رانیوونو قراردادونه په سیمه کې ترسره کوو. په ځانګړې ډول موږ زیاتره په پاکستان کې د دغو توکو په رانیولو بوخت یو، ځکه چې بیې تر زیاته حده ټیټې دي او ښکاره ده چې د لیږدولو واټن

یې هم کم دی او په دې توګه د ترانسپورټ لګښت یې کمیږی او موږ باید په پاکستان کې د نورو سیمو په پرتله زیاته زیرمه وکاروو.

په داسی حال کې چې موږ د ناامنی د پام وړ پیښی او په ځو تیرو اوونیو کې پر خپل کاروانونو باندې بریدونه نه درلودې خو موږ د دې ګواښ ځخه چې لا تر اوسه هم شته، خبرتیا لرو، په تیره بیا د هیواد په جنوب کې اوپه هغه حلقوې سړک باندې چې هرات د کندهار سره نښلوي،دغه ګواښ شته.

په لنډ ډول، زه فکر کوم چې دغه غوښتنه ښه کار ورکړی، چې په دې لړ کې د مرستندویه ټولنې له خوا ښه غبرګون وښودل شو، حکومت په فعاله توګه ونډه اخیستې چې د دغې پروسې د پلان او خوراکي توکو د ویش له مخې مشري کوي او د ملګرو ملتونو د موسسو او نورو بشردوستانه همکارانو سره یو ځای کار کوي چې دې کار موږ ته لا زیاته هیله راکړې ده چې موږ به په دې وتوانیږو چې په ګړندي ډول د دغه پلان د لنډ مهال اقدامات ترسره کړو.

زموږ او د افغانستان د حکومت اندیښنه دا ده چې د کال د نیمایي برخې وروسته به څه پیښ شي. کم خلک فکر کوي هغه فاکتورونه چې د غنمو د نرخونو د لوړوالی په برخه کې یې خورا مهم رول لوبولي، اوس د له منځه تللو په حال کې دی. هیڅوک باور نه کوي چې موږ به د تیرو ۱۲ او یا هم د ۱۸ میاشتو د قیمتونو کچو ته بیا ولاړ شو.

دا په دې مانا دی هغه خلک چې د لوړو نرخونو له امله زیات متاثره شوی ښایي زیاتې مرستې تر لاسه نه کړي. کیدای شي کله چې په پاکستان او افغانستان کې حاصلات را غونډ شي نرخونه به لږ اوچت شي، لیدل کیږي چې په دې موسم کې د غنمو او اوړو په نرخونو کې لږ کموالی راغلی، خو موږ باور نه لرو چې نرخونه دې د تیر کال په پرتله بیا لوړ شي.

بله اندیښنه هم موجوده ده او هغه د افغانستان د حکومت او ملګرو ملتونو له خوا په دې وروستیو کې مطرح شوی چې په ۲۰۰۸ کال کې به د افغانستان د غلو دانو تولیدات څومره وي.

تیر کال موږ د حاصلاتو د ښه تولید په هکله رپوټ ورکړ، هیواد د غلې د کموالی د نږدې ۵۰۰،۰۰۰ ټنو سره مخامخ وه، تیر کال دا کچه نږدې ۱ میلیون ټنه خوراکي توکي وه. دا اټکل به ډیر د وخته وي چې د سږ کال د لو په هکله څه وویل شي، خو د افغانستان حکومت او ملګرو ملتونو له پخوا اندیښنه ښودلې چې د سږ کال د غله جاتو تولید به هغومره ښه نه وي لکه څرنګه چې یې اټکل کیده.

د کرنې وزارت، د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې د سازمان په مرسته د اپریل په میاشت کې خپله سیمه ییزه ارزونه ترسره کوي چې د حاصلاتو د متوقع کچې په هکله معلومات تر لاسه کړي. دا حالتونه لا هم ستونزمن ښکاري. باید ووایم چې د ۲۰۰۸ کال د حاصلاتو په هکله درې یا څلور اونی وړاندې ښې هیلې موجودې نه وې ځکه چې د د واورې پوښښ او د بارانونو اوربښت د پسرلی په لومړیو کې او د تیرو کلونو په پرتله دومره ښه نه وه.

د افغانستان حکومت او ملګري ملتونه په ګډه دا وضیعت ارزوي او هغو مداخلتونو ته دوام ورکوي چې د افغانانو سره د لنډ مهاله، منځمهاله او اوږد مهاله مرستو ته د ترسره کولو لپاره او د هغو افغانانو لپاره چې د

نرخونو د لوړوالی له امله متاثره شوي او یا هم د سږ کال د حاصلاتو د کمي کچې له امله متاثره شي، ضروري دی.

دا اساسا هغه څه دي چې زه یې د غوښتنې په هکله د ویولو غوښتنه کوم، او دا هغه مهمه مسله ده چې زموږ په وړاندې پرته ده. پر دې سربیره نړیوال خوراکي پروګرام نور اقدام هم کارولای شي. لکه څنګه چې سیلابونو تر اوسه نه دي جاري شوي او تمه کیږي چې سږ کال به جاري نه شي، په ځینو سیمو کې د خوراک په هکله یو شمیر نور مداخلی او اقدامات په نظر کې نیول شوي او همدارنګه نور پروګرامونه چې موږ یې په سیمه ییزو کچو ترسره کو او د هغو خلکو سره مرستي کوو چې د جګړو له امله بې ځایه شوي دي. د هغو خلکو سره هم مرستې ترسره کیږي چې د ایران څخه راستانه شوي او د استوګنې مؤقتې مرستو ته اړتیا لري.

**یوناما:** ښاغلی ریک، ستاسو څخه مننه، اوس به موږ ستاسو پوښتنو ته ځوابونه ووایو.

**سلام وطندار:** تاسو وویل چې ۳۰ ټنه خوراکي توکي چمتو شوي دي. تاسو څومره خواړه برابر وي او څومره خوراکي توکو ته اړتیا ده؟ آیا تاسو د هغو لسو هیوادونو نومونه اخیستلای شئ چې درسره مرسته کوي؟

**نړیوال خوراکي پروګرام:** د دې غوښتنې موخه ۸۸۰۰۰ ټنه خوراکي توکي وو او هغه خوراکی توکی چې هیواد ته را داخل شوي دي ۳۰۰۰۰ ټنو ته رسیږي. او نږدې ۵۰۰۰۰ ټنه نور خوراکی توکی باید راورسیږی موږ د دغه مقدار د تر لاسه کولو لپاره زیرمی لرو چې هغه را ورسوو، دا د تنظیم او تدارکاتو او لوژستیک پورې اړوند پوښتنه ده. هغو مرستندویانو چې دغې غوښتنې ته یې ځواب ویلي دی هغه د امریکې متحده ایالات، کانادا، ډنمارک، آلمان، سویس، بریتانیا، هالند، فنلند، ناروې او د ملګرو ملتونو د اضطراري غبرګون استحکامي صندوق (CERF) دي.

**ایرنا:** تاسو د ۲۰۰۸ کال په لومړیو کې د دې ستونزې د کمښت مسلې ته اشاره وکړه، او کله چې موږ مزار شریف او هرات ته ځو نو هلته موږ لړه واوره په غرونو وینو. د دې څخه جوتیږي چې افغانستان به سږ کال د خوراکي توکو د لا زیات کمښت سره مخ شي. آیا تاسو د دې ستونزې د حل لپاره څه پلانونه لرئ؟

**نړیوال خوراکي پروګرام:** زه فکر کوم هغه توافق نظر چې د ۲۰۰۸ کال لپاره د غلو د حاصلاتو ارزونه کوي شته دا دی چې دا لا ډیره تر مخه ده چې د دې ټاکنه وکړو چې حاصلات به تر کومې کچې وي، په دې اړه ځیني عوامل شته چې هغه باید په پام کې ونیول شي. داسي عوامل لکه چې سږ کال د واوري پوښښ د تیر کال په پرتله کم دی. او همدارنګه د پسرلی لومړنی بارانونه رانغلل چې هیله کیدله. تاسو خبریاست چې د تیرې اونی څخه بارانونه جاري دي. او دا مهمه ده چې دې ته د وړاندې څخه وګورو، نه دا چې تر هغه پورې انتظارو وکاړو څو چې تاسو سل په سلو کې باوري و اوسي چې ښه حاصلات به تر لاسه نه شي. وړاندې تر دې چې تاسو تدابیر ونیسئ تاسو باید د وړاندې څخه خبرتیا ولرئ چې سږ کال څه پیښیږي.

ددې لپاره چې د تدابیرو په اړه پوره دقیق و اوسو لکه چې ما د وړاندې و ویل په هغه طریقه چې موږ دې ته ګورو چې د وګړو اړتیاوې سملاسی، د منځنی کچې او یا هم د اوږدې مودې تدابیر وغواړي. موږ د دې څخه خبر یو چې حکومت په پام کې لري چې اضافي خوراکي توکي د هیواد لپاره را ونیسي. او دا هم په دې

صورت کي چي سږ کال ښه حاصلات نه وي. نو په دې صورت کې دا د چټکي مودې اقدام دی. د اوږدې مودې په اقدام کې هغه شیان شامل و، چې موږ یې د وړاندې یادوونه وکړه او هغه د تخمونو اصلاح، د سړې برابرول او د زیاتې ځمکي د اوبو خور د لاندې راوستل دی.

**رویترز:** آیا دا امکان لري چي د بیو دغه لوړه کچه په کافی اندازه د دې سبب شي چي د آپینو د تولید پر ځای د غلې تولید ته مخه کړای شي؟

**نړیوال خوراکي پروګرام:** دا به پروا نه لري، دا یقیني ده چي د غنمو د بیې زیاتوالی به د کوکنارو د کرنې په هڅونې کې کموالی راولي. څرنګه چي ماته معلومه ده ستونزه دا ده چي د هغو خلکو لپاره هڅونه چي کوکنار کري ډېره لوړه وه نسبت هغو ته چي د غنمو پر کښت بوخت وه. خورا ډېره لار لا پاتې ده ترڅو دغه تشه ډکه شي.

**تمدن تلویزیون:** تیر کال د ښو حاصلاتو تر څنګ د خوړو بیې دوه برابره شوې او سږ کال چي یو ستونزمن کال دی او لکه چي تا وویل ډیرې ستونزې شته او د دې امکان شته چي ښه حاصلات به نه وي، نو تاسو اقدامات کولای شئ، چي دا ستونزه حل کړي؟ ولي قراردادونه هر وخت له پاکستان سره کیږي په داسي حال کي چي هغوي د بیې یو بې ثباته بازار لري؟ ولي له ازبکستان، ترکمنستان او یا تاجکستان سره دا قراردادونه نه وي؟

**نړیوال خوراکي پروګرام:** زه فکر کوم چي دا به لا اوس ډیر ژر وي چي موږ دې نتیجي ته ورسیږو چي د سږ کال حاصلات به ډیر ښه نه وي، زه فکر کوم چي د پایلو څخه وړاندې باید موږ یو څه انتظار و باسو، خو حکومت کوښښ کوي چي په دې هکله خپل چمتوالی وښیي. لکه څنګه چي ما د وړاندې هم وویل په هیواد کي د خوراکي توکو د موجودیت په هکله هغوي د بیړني حالت لپاره په مستقیم ډول د حکومتونو په کچه د غلو د اخیستلو په هکله کار کوي. یو څه وخت وروسته حکومت داسي پلان لري چي د غلو د زیرمه کولو لپاره یو ځای جوړ کړي، دا کار به وکولای شي چي د نرخونو د لوړوالی څخه د یوه کال څخه تر بله کاله پوري مخه ونیسي. په دې هکله د افغانستان حکومت او د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې سازمان په ګډه کار کوي. دا کار لا اوس هم د یوې مفکورې بڼه لري خو دا کار به د منځ مهاله او اوږدې مهاله مودو لپاره ډیر د اهمیت وړ وي. ستاسو د پوښتنې د دوهمې برخي په هکله چي ولي موږ لا هم د پاکستان څخه خرید کوو، موږ د خپلو تمویل کوونکو په وړاندې ژمنې لرو او باید د هغوي د مرستو لپاره ښه ارزښت قایل شو، دا په دې مانا دی چي موږ باید د خوراکي توکو د رانیولو نرخ، هیواد ته د خوراکي توکود ترانسپورت نرخ او همدارنګه د توکو د رسولو وخت په نظر کي ونیسو، موږ نه شو کولای هغه قراردادونه ومنو چي موږ ته خوراکي توکي د ۲۰۰۸ کال په پاتې شپږو میاشتو کي را کړي.
د سیمي په کچه پاکستان د غنمو د تدارکاتو د نرخونو په لحاظ تر ټولو ټیټ نرخونه ورکوي او موږ باور لرو چي دا لړی به دوام ومومي. موږ کوښښ کوو چي نورې سرچینې هم ولټو. موږ په دې نږدو کي د قرغزستان او ایران څخه ځینې خوراکي توکي رانیولي، خو کله چي د پاکستان هیواد بیا د هغوي د غلو صادرولو ته

اجازه ورکړې او موږ فکر کوو چې دا لړی به بیا ډیر ژر پیل شي او دا به د افغانستان لپاره د خوراکي توکو د برابرولو لپاره تر ټولو ارزانه سرچینه وي.

په دې هکله باید وویل شي چې لومړنی معلومات ښیي چې په پاکستان کې په خاص ډول د پنجاب حاصلات ډیر ښه دي. د حاصلاتو غونډول به دلته په څو ورځو کې پیل شي. د هغو رپوټونو په حواله چې تر اوسه را رسیدلي تمه کیږي، چې د سږ کال حاصلات به د تیر کال د حاصلاتو په پرتله ښه وي.

**فردا تلویزیون:** تاسو په خپلو خبرو کې د ۸۸۰۰۰ ټنو خوړو غوښتنې ته اشاره وکړه، اوس مو و ویل چې ۳۰۰۰۰ ټنه یې رسول شوي دي او دا اندیښنه مو هم څرګنده کړه چې د سږ کال حاصلات به د تیر کال په شان ښه نه وي. زما پوښتنه دا ده چې آیا څومره وګړي له دې کبله د خوړو له کمښت سره مخامخ کیږي؟

**نړیوال خوراکي پروګرام:** موږ لا تر اوسه پوری نه دي شمیرلي، هغه څه چې موږ وایو دا دي، چې یو شمیر اندیښني ښته چې کیدای شي سږ کال حاصلات د تیر کال په شان ښه نه دي، خو بیا هم دا باید ولیدل شي او ترڅو چې موږ پوهیږو چې واقعي کمښت به څه وي، دا نا ممکنه ده اټکل شي چې څومره خلک به اغیزمن شي او دا چې هغو چیرې دي؟ آیا د هیواد په ټولو برخو کې دي او که په ځینو برخو کې؟ نو دا یو شي دی چې په راتلونکي یوه میاشت او یو څه وخت کې به جوته شي.

ډیره ډیره مننه